سال ششم شماره ۳۸
شماره مسلسل ۹۰۵
دوشنبه ۱۲ جدی ۱۳۸۴ هـ ش
۳ ذوالحجه ۱۴۲۶ هـ ق
2 January, 2006

DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپاڼه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C

جنرال بابر: ما سره د افغانستان تاریخی آثار نشته



د پاکستان د کورنیو چارو پخوانی وزیر جنرال نصیرالله بابر وایی چې زما سره د افغانستان تاریخی اثار نه شته او که وی هم، هغه د شینواري مارکیټ څخه اخیستل شوی دی زیاتوی د شینواری مارکیټ او قصه خواني بازار پر دغو اثارو ډک دی. بابر وایې هرڅوک چې ادعا لری، چې زما سره دافغانستان تاریخی اثار شته، نو را دې شی زما کورته، او ودې گوری هرڅه مخاخ پراته دی، او که څه وی د شینواری مارکیټ څخه رانیول شوی او زمونږ ملک په دغو اثارو لکه مله کنډ، صوات، باجوړ پرې ډک دی. ده د افغانستان د اطلاعاتو، فرهنگ او توریزم د وزیر داکتر رهین دلیک په هکله وویل چې ماته نه دی رارسیدلی؟ ۴مخ

مهاجرین خواهان مهلت گردیدند

مهاجرینی که درخانه علم وفرهنگ روسیه در کابل جاگزین هستند باید این محل را ترک گویند به گفته پولیس حوزه سوم امنیتی براساس مکتوب قوماندانی امنیه ولایت کابل چندی پیش به این مهاجرین اطلاع داده شده بود تا هرچه زودتر این ساختمان را ترک نمایند اما تاهنوز باشنده گان این ساختمان حاضر به ترک آن نمیباشند مقامات حوزه سوم میگویند که برای این مهاجرین ازطرف وزارت مهاجرین وعودت کننده گان محل مناسب درباغ داود درنزدیک کمپنی درنظرگرفته شده وبه آنها ابلاغ گردیده است. ص۴

سرمقاله

[illegible]

ازمعاشات بلند تا مالیات گزاف وظالمانه

یکی از مسایل زبانزد درمطبوعات طی هفتهء گذشته بحث های بود که پیرامون معاشات وکلای شورای ملی صورت گرفت.

درین میان دیدگاهها، وطرز تلقی های ضد ونقیض بسیاری حتی درمیان وکلای ولسی جرگه نیز به عمل آمد که ازجهاتی قابل تأمل به نظر میرسد.

برخی از وکلاء این معاشات را اندک وغیرمکفی میشمارند با این استدلال که آنها مکلف به مهمانداری ازموکلین شان اند، شماری دیگر این معاشات را درمقایسه با معاشات کارکنان دولت گزاف وبالاتر از توان بودجهء دولتی به شمار آوردند.

آنچه گفتنی است اینست که وکلاء ازهرجهت قابل احترام اند ومعاش مناسب ودرخورشان باید پرداخته شود.

اما مردم بیشتر به این امر می اندیشند که چگونه منسوبین وزارت مالیه که همواره درپرداخت معاشات نخوروبمیر ماموران ومعلمان داس را با کلوخ تیز میکنند ودلایل "پا چوبین" خویش را مطرح میسازند، و تاکنون درین مورد ازابراز نظر ومشکل تراشی به دلایل معلوم خود داری ورزیده اند.

با کند وکاوبرین مسایل یک نکته قابل یادکرداست که، میراث نابرابر معاشات دالری که طی سالهای اخیرازسوی مراجع معین رسماً به کشور اعزام شده اند، فرصتی بود که این رسم نابرابر یک بام دو هوا رامیان کارکنان فرودست وعاملان فرا دست به میان آورد.

ازسوی دیگر مشاور سازی واستخدام بیش از اندازهء (ظرفیت) مشاوران داخلی وخارجی دروزارتخانه ها با معاشات چندصد وچند هزار دالری به مراتب گزاف تر وبلندتر ازوکلاء، طی سه چهار سال گذشته، دار وندار بودجهء کمکهای به اصطلاح بادآورده را با چالشی روبرو ساخته است.

درین مورد نیز وزارت مالیه مهر سکوت را ازلب برنمیدارد. زیرا این توجیه را پیش میکشد که این پولها به بودجهء دولتی ربطی ندارد.

اما آنچه بیش از همه وحشتناک وظالمانه ومانند کارد به استخوان ملت ساییده میشود، معاشات چندوچندین هزار دالری مسوولین حکومت ومشاورین وزراء نیست، بلکه بلندبردن مالیات بخصوص مالیات خانه و زمین درکابل است که تا(چهارصد وپنجصد فیصد) بالابرده شده است.

تامگر بتواند بودجه خود را تکمیل کنند، بدون توجه به اینکه بدانند که آیا مردم میتوانند از خانه های جنگزده وزمین های محل سکونت خویش دریکسال چنین یک مالیهء گزاف را که خود ساخته وپرداخته اند، بپردازند. درحالیکه باید مالیات نباید ازحدود مشروعیت آن تجاوز کند وبه صورت ظالمانه درآید.

باهمهء این گفته ها، پرسش اینست که آیا حکومت باگرفتن وقانونی ساختن چنین مالیاتی میتواند ازعهدهء پرداخت معاشات بلنددالری برآید یاخیر؟

اگر پاسخ منفی باشد، جای تأسف است، زیرا عامهء مردم بامعاشات اندک خود چگونه این مالیهء پنجصد فیصدی تثبیت شده ازسوی حکومت را پاسخگو باشند؟

ددولت ۳ مخالف وسله وال نیول شوی دی

ددفاع وزارت خواکونو په یو لړ عملیاتو کې د هلمند ولایت د گرشک په سیمه کې ۳ تنه وسله وال له دوو کلاشینکوفونو او بمونو سره یو ځای نیولی دی. د دفاع وزارت د یو چارواکی د وینا له مخې نیول شویو کسانو ددغه ولایت په وروستیو بمی چاودنو کې هم لاس درلود.

په پکتیا کې ۸۰ کیلو گرامه چرس نیول شوی دی

په پکتیا کې پولیسو ددغه ولایت د سیدکرم ولسوالی په اړوند سیمه کې ۸۰ کیلو گرامه چرس نیولی دی. د پولیسو پر وینا دغه چرس بهر ته د قاچاق دلیږدولو په موخه په بوجیو کې ځای پر ځای شوی وو. پولیسو په دې اړوند څوک نه دی نیولی خو وایې چې پلټنې یې په دې هکله پیل کړی دی.

سپری نمودن امتحان بمنظور راه یابی به موسسات تحصیلات عالی

صدها تن ازفارغان صنوف دوازدهم لیسه های ولایات بامیان و دای کندی دیروز درامتحان کانکور جهت شمولیت درموسسات تحصیلات عالی کشور اشتراک کردند که مجموعاً ۳۱۰ نفر درین امتحان که ازسوی یک هیت فرستاده شده ازکابل نظارت میشد اشتراک کرده بودند درین میان ۱۶ تن ازدختران نیزحضورداشتند که جهت راه یافتن به موسسات تحصیلات عالی در امتحان کانکور شرکت کرده بودند وزارت تحصیلات عالی گفته است که امسال احتمالاً پنجاه هزار تن از فارغان صنوف دوازدهم مکاتب مرکز وولایات درامتحان کانکور اشتراک خواهند کرد ولی مقامات این وزارت میگویند که بدلیل عدم ظرفیت لازم درموسسات تحصیلات عالی ازین میان صرف حدود بیست هزار تن ازجوانان به موسسات تحصیلات عالی جذب خواهند گردید.

رادیو آزادی

د چارتراشو د قاچاق په تور نیول

چارواکي وایي چې په کنړ کې دوه کسان د چارتراشو قاچاق په تور نیول شوي. نیول شویو کسانو غوښتل چې چار تراش لرگي پاکستان ته ولیږدوي حکومت د چارتراش په لرگیو کلك بندیزونه لگولي دي د کنړ د پولیسومشر سمونوال محمد حسن فراهي په وینا د تیرې شپې په اوږدو کې تر دیرشو زیات چار تراش او په یوه بله پېښه کې چې په یو تراکتور کې قاچاق کوونکو غوښتل چې چار تراش قاچاق کړي ونیول شول ۴مخ

بازداشت ۱۱۳ تن افغان به اتهام قاچاق مواد مخدردرهند

در دو ماه اخیر ۱۱۳ تن ازشهروندان افغان به اتهام قاچاق موادمخدر درهندوستان بازداشت شده اند به گفته شاه ولی پکتیاوال رئیس پولیس بین المللی وزارت داخله قرار است ۱۳ تن ازآنها پس ازیک هفته به کابل انتقال داده شوند پکتیاوال رئیس پولیس بین المللی وزارت اموداخله دریک گفتگو گفت: "۱۱۳ تن ازشهروندان افغان درهند ازسوی پولیس آن کشوربازداشت شده اند" اما وی درمورد هویت این افراد اشاره یی نکرد پکتیا وال گفت که درین اواخر شمار زیادی ازشهروندان خارجی با استفاده از اسناد جعلی داخل کشور گردیده اند که بیشتر آنان به اتهام قاچاق مواد مخدر از سوی پولیس سرحدی میدان هوایی بین المللی کابل بازداشت شده اند ص۴

د کوکنارو د مخنیوي په هکله پریکړه

د کنړ ولایت د مانوگي ولسوالی قومي مشرانو او مخورو پریکړه کړی چې له دې وروسته به په خپلو ځمکو کې کوکنار نه کري، دغه قومي مشرانو تیره ورځ په یوه غونډه کې ژمنه کړی چې د مانوگي ولسوالی هیڅ یو کروندگر ته به اجازه ورنکړي چې په خپلو ځمکو کې کوکنار وکري دغو مخورو ویلي دي که هر چا ددوی له پریکړې څخه سرغړونه وکړه نو درانه قومي ناغه به ورکوي له سیمې څخه خبریال خبر راکوي ۴مخ

ایجاد فابریکه تولید ادویه

قرار است امروز درکابل یک فابریکه تولید ادویه به کار آغاز کند مسوولان وزارت صحت گفته اند که این فابریکه با استفاده از مواد استندرد وتولید ادویه که عمدتاً ازخارج وارد خواهد شد چندین نوع تابلیت وشربت راتحت نظر وزارت صحت عامه تولید وبه بازار عرضه خواهد کرد. ص۴

ACKU

عبد اللطيف "منت بار"

اجباري ودونه که د شخړو ځاله!

کورنی محیط زیاتی مهربانی، صمیمیت او نیکي پیرزوینی ته ضرورت لري که د کور فضا ګډوډه او د شخړو میدان ګرزیدلی وی نو همدغه کوچنیان هم ترینه همدغه راز روزنه اخلي او په مجموع کې سپین سترګي، بی حیا بی سره او بی ادبه روزل کیږي او که چیرې کورنی ماحول په لطف، مهربانی او پیرزو باندی دریدلی وی ددغه راز کوربچیان به مو په تعلیم او روزنی پوه کسان وی چي هیواد او هیوادوالو ته د خدمت جوګه کیدلای هم شي.

دغه خوالی او ناخوالی د اجباري ودونو نه زیاتی تر سترګو کیدلای شي په اجباري ودونو کې چې نجلی د پلار اویا مور له خوا په جبري توګه د پیسو په بدل کې چاته په نکاح کیږي ډیر زیات بد عواقب هم لري او تولنه ترینه عذاب ویني.

یوه نجلی چې اوس مور ګرځیدلی او څو اولادونه هم لري خپل د ژوندانه نادودی داسې بیانوي: ((د څوارلسو او پنځه لسو کالو په منګ نجلی وم چې د خپل پلار له خوا یو دیرش کلن ځوان ته ورکړ شوم که څه هم کلیوالو نجونو به راته زیات پیغورونه راکول خو ما هم د چا نه منل او خپل نصیب ته مې پناه وروړه د واده شپې ورځې راباندې دومره تر خې تیری شوی چې په ژوند به مې هیری نه شي او اوس چې د څو ماشومانو مور یم زما اړیکې زما د ژوند ملګری سره په هماغه توګه په ناندرو باندې راڅرخي هغه زمانه موږ دی او زه له هغه نه خو د ژوند لحظی دی په هغه دغه یې تیروم.

د ګډ ژوند موضوع له همدغه ځای نه پیل کیږي یوه ښځه او نارینه باید د ژوندانه ټولی ماتی ګوډی په تفاهم سره حل کړي، د یو بل د نظر قدر وشي او په هره موضوع کې د ښځې او نارینه نظر یې څرګند او ښکاره شي که په نظر کې کوم کمی موجود د خپل ژوند د شریك په مرسته دی د ترمیم لاندې ونیول شي یعنی دا چې د ژوند ټول ضرورتونه باید ددوی په ګډ نظر باندې د حل لاره پیدا کړي اوپه نیک تفاهم دی ورته دا واری لاری چاری برابری شي او په دې توګه دی ټولی افغانی کورنی د مشوری او تفاهم له لارې پر ښنو ودریږي.

د اجباري ودونو موضوع ته دی د توافق نظر ورکړ شي او له توافق نه دی پرته نجلی او هلك په زور او جبر باندې یو او بل ته نه ورکول کیږي چې زیاتی ناوړه اغیزې لري،

ولور د همدغه راز اجباري ودونو یوه بله کرغیړنه موضوع ده چې زموږ د هیوادوالو ژوند یې د بدمرغی سره مخامخ کړی دی، نن ورځ زموږ د هیواد په زیاترو سیمو کې د ولور اندازه د دوه او دری لکو افغانیو نه کمه نه ده او که څوك له چانه وپوښتي چې ولی په خور او لور باندې پیسی اخلي نو مسکی غوندی به شي او وایي به چې ((رواج)) دی.

په خور او لور باندې پیسی اخیستل، او دوی د حیوان په څیر خرڅول د اسلام د مبین د لارښوونی نه مخالف کار وي او باید په ټینګه سره تری ځانی وژغورل شي. موږ ډیر ځله لیدلی دی چې د پیسو د اخیستلو په څنګ کې د برخو بنډو ورکول، کوژدی او پیښې ارتی د واده د مرحلې تر رسیدلو پورې د زوم خوار کوټی کورنی پولي ټك ته کښینوي په نورو هیوادونو کې دغه راز ناوړه چال چلند له مود نه لویدلی د واده ټول ضرورتونو نه د نجلی له خوا برابریږي او زوم ترینه بری الذمه راوځي.

که چیرې زموږ ګاونډی هیواد پاکستان ته وکتل شي ددغه هیواد د زلمیانو د ودونو چاری په نیك تفاهم سره سرته رسیږي او زراو زور پکې کوم دخالت نه شي پیدا کولای، نور راځی چې خپل افغاني ماحول ددغه راز بدو رواجونو نه په څنګ و ساتو او هلکان او نجونی خپلی رضا ته پریږدو چې په خپلی خوښی باندې د راتلونکي ژوندانه ډیوه په خپله بله کړي او خپل کورنی ماحول د شخړو او ناندرو پر ځای د نیك تفاهم نه برخمن کړي.

م پردیس

اولس د اصولو او قانون د پلي کیدو په ارمان

سره له دې چې د ولس چارواکي اولس ته د قانونیت او اصولو د پیروی دعوې کوي خو که عملاً د اداري او نظام پر بهیر نظر واچوو تر اوسه پورې هم په ټولنیزه توګه اداره او نظام د ضوابطو پر ځای د روابطو پر چورلیږ راڅرخي.

د اداري اصلاحاتو پروسه هماغسې د میړی پرپله روانه ده چې په لنډه راتلونکي کې هم له دې اداري څخه د څه معجزې تمه نشي کیدای.

د اوسني نظام په باب همدغه تکې ډیر د تامل وړ دی چې معمولاً د مسلکي کادرونو، با تجربه شخصیتونو او داسې وطندوستو افرادو د جذب روحیه پکې لږده چې هیواد په اوسنیو حالاتو کې زیاته اړتیا ورته لري، ټاکنې او یا د پستونو ډکول ددې پر ځای چې د اړتیاوو او یا غوره توبونو پر بنسټ تر سره شي تر اوسه پورې د خپلو ځانګړیو اړیکو پر بنسټ سرته رسیږي.

مجازات او مکافات دیوې رغندې اداري اساسي اړتیا ده، که موږ د هیواد د تیرو دیرشو کلونو حکومتونو او نظامونو ته نظر وکړو همدغه یې ډیره لویه ستونزه او غلطي وه چې د وړتیاوو او استعداد ځای شخصي او یا ګوندی اړیکو ونیو، تر دې چې القاب، مقامونه او رتبې هم د غنیمت په څیر د همدغسې اړیکو په حساب ویشل کیدل.

موږ ته چې درجن درجن بیسواده جنرالان او یا نیم سواده کار پوهان! په میراث پاتې دي یو سبب یې همدغه و چې تیرو نظامونو دخپلو یارانو د خوښی لپاره د اولس په مادي او معنوي هستی تیره چاړه راښکله، چاته د یوې ترانې د ویلو په بدل کې د راډیو او تلویزیون ریاست وبښل شو. څوك کوم جناب ته د څو خوږو القابو او ستاینو په قلقله د ((پوهاند!!)) په علمي رتبه وویاړل شول، څوك، د وروروژنې پر لویه کې د جزالی او ستر جزالی پر القابو ونازول شول.

په هر صورت د بن له پریکړو وروسته چې له بحران څخه د نظام پر لور د خوښت شعارونه تاوده بدرګه شول اولس هیله درلوده چې څیر شوم روایت باید ونه پالل شي، خو تیر اوسه د اولس دغه انتظار ته ډیر مثبت ځواب نه دی ویل شوی د ولسمشر ښاغلی کرزی په مشر تابه، اوسني نظام یوه عجیبه تګلاره داده چې بې کیفایتی او یا درغلی پکې معلومه نه ده. ډیره ځله ځینې یاران چې که خیانت یې نه وی کړی د کفایت او وړتیا په نشتوالی له یوې دندې لرې کړای شي خو تر هغو په لوړ مقام ټاکل شوی دی.

کاشکي په دې اړه چارواکي هغه اصولي لاره خپله کړي چې اولس ته یې ژمنې ورکوي، کاشکي نور په اداره او نظام کې وړتیا او مسلکي پوهه، د ټاکنو معیار شي، همدغسې د هیواد مصالحو او ګټو ته عملاً وفادارو کسانو ته امتیاز ورکړای شي، د همدغسې ځانګړتیاوو درلودونکي وستایل شي، وویاړل شي او ونازول شي، تر څو په هیواد کې عملاً د یوې رغندې اداري او نظام د رغاونې پروسه چټکه شي.

> **داوسني نظام یوه عجیبه تګلاره داده چې بې کفایتي او یا درغلي پکې معلومه نه ده**

په ملي ژبود دکانونو دسرلوحو دبدلون اړتیا

د فرهنګ وزارت په دې هلو ځلو بوخت دی. تر څو د کابل ښار په لارو او کوڅو کې د انګلیسي (لوحو) ځای پښتو او دری ژبو ته ورکړي. څو یوازې د ګوتو په شمیر خلك دا لارښوونه مني.

له فرهنګ سره د مخالفې سوداګری په شخړه کې د کابل هټیوالو او کاروبار خاوندانو هغه لارښوونې ته په خپګان غبر ګون ښودلی دی چې په خپلو هټیو او سوداګریزو مرکزونو باندی د زیاتو خلکو د پوهیدلو په خاطر د انګلیسي پر ځای دری یا پښتو وکاروي

د اطلاعاتو. فرهنګ او ګرځندوی وزارت د سپتمبر په وروستیو ورځو کې دوه اونی وخت ورکړی و تر څو یا د انګلیسي لیکل شوی لوحې د خپلو هټیو له مخې لیرې کړي او یا دې د هغوی د پاسه په پښتو یا دری په لویو تکو هماغه لوحه ولیکل شي.

ورکړی شوی وخت تیر شو. خو ډیر لږ بدلون راغی. نوموړی وزارت ورکړی موده داکتوبر تر پایه وغځوله. خو داسې نه بریښي چې د کابل هټیوال دې د لارښوونې منلو ته ډیر ژر غاړه کیدي.

په نیوی ښار کې د خپلی هټی مخې ته چې په سر یې (Blue Sky Mobile Center) لیکل شوي وو. ۲۳ کلن ولاړ حبیب الرحمن آی ډبلیو پي آر ته وویل. ددې لوحی په لیکلو یې له ۳۰۰ ډالرو څخه زیاتی پیسې لګولي دي.

هغه وویل: ((ما دا لوحه د مشتریانو د راجلبولو لپاره لیکلی ده. که دا بدله کړم. نو مشتریان به له لاسه ورکړم او هر یو ته باید د خپلې پتې د بدلولو په اړه بیلا بیل ووایم.))

زیاتره خلك لویدیځ راکښونکي نومونه ددې لپاره لیکي. چې تکې په تکې یې په اسانی نه شي ژباړلی. حبیب وایي: ((له بده مرغه موږ ددې کلمو لپاره په دری یا پښتو کې ورته نومونه نه لرو. لوحې باید راکښونکی اوسي. تر څو مشتریان ځانته راکاږي او خلك ورپورې ونه خاندي)).

په حقیقت کې پښتو او دري دواړه د (موبایل فون) لپاره کلمی لري. څو د انګلیسي (موبایل) د خلکو خولو کې ډیر لویدلای دی.

د فرهنګ د وزارت چارواکي، سید اقا حسین سان چارکي وویل. پریکړه د ښاروالی او د دولتي اعلانونو د ریاست. افغان اعلاناتو له چارواکو سره ملي هویت ته د ودې کولو په نیت ګډه نیول شوې وه.

سانچارکي وویل: ((کله چې یو څوك دلته راځي، باید په دې پوه شي. چې افغانستان ته راغلی دی))

د یو نوي ابي ښیښو لرونکي (چیف برګر) رستورانت مخې ته د هغې خاوند. ۴۲ کلن شاه محمد له دې لارښوونې څخه لکه د نورو په څیر ناخوښه و هغه وویل: ((موږ په خپلو ژبو کې ددې لپاره برابر نومونه نه لرو.))

نوموړی زیاته کړه: ((د لوحو بدلون زموږ په ګټه نه دی موږ به مشتریان له لاسه ورکړو او له بلې خوا به د بلې بریښنایي لوحې لګښت راباندې راشي. چې ۲۰۲۸ ډالره کیږي.))

د افغان اعلاناتو مشرې. انیسې زماني له خپلی لارښوونی څخه دفاع وکړه. هغې وویل: ((موږ هوډمن یو چې خپل افغاني فرهنګ ژوندی وساتو. موږ هرو مرو دا لوحې بدلوو.))

نوموړې زیاته کړه. که خلك د ژباړې په اړه مرستې ته اړتیا لري. باید د علومو له اکاډمی څخه مرسته وغواړي ((موږ ته دې راشي موږ به ورسره مرسته وکړو))

هغه د اطلاعاتو او فرهنګ له وزارت څخه پیل کوي. چې دا لارښوونه یې ورکړې ده په داسې حال کې پښتو او دري د توریزم لپاره خپلی کلمې لري، د اطلاعاتو فرهنګ او ګرځندوی وزارت غوره بولي. د خپل وزارت په نوم کې د (توریزم) کلمه راولي. دا له لارښوونې څخه په خپله د هغوی نیغ په نیغه سرغړونه ده.

له دې امله ډیر خلك وایي. نوموړي وزارت دوه مخې دی. هغه وایي: ((هغې دې پخپله د خپلې ژبې کارونه سم کړي)).

د علومو د اکاډمی غړي غړتی خاوري د نومونو له بدلون سره موافقه ده. هغه وایي: ((په بازار، هټیو او په نورو ټولو ځایونو کې باید لوحې د فرهنګ استازیتوب وکړي او هر څوك چې دلته ته راځي. باید په دې پوه شي. چې افغانستان ته راغلی دی))

زیات شمیر کابلیان له دې خبرې سره موافقه لري او شکایت کوي. چې په ښار کې د بهرنی ژبې په کارونې کې په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو له رانسکوریدو راپدیخوا ښار ته د نړیوالو مرستندویو کارکوونکو په راتګ د پام وړ زیاتوالی راغلی دی.

په نادر پښتون وات کې د بریښنا د سامان الاتو د پلورنځي خاوند. ۲۱ کلن احمد تمیم وایي. هغه د بهرنیو کلمو له اوریدو او لیدو څخه ستړی شوی دی.

نوموړی وایي: ((زموږ خپلی ژبې باید وده وکړي موږ باید داسې کلمې وکاروو. چې خلك پرې وپوهیږي)).

یو تن چې له دې لارښوونې څخه زیات خوشحاله دی. هغه سر لوحه لیکونکی سید نجیب الله سیفی دی. چې د لوحو (بیا) لیکلو څخه به یې ډیره ګټه په جیب کې ولویږي. هغه وویل: ((که هر څوك له ما څخه وغواړي. چې لوحه یې په پښتو او دري ورته بدله کړم. نو په سلو کې پنځوس افغانی په تری لږې واخلم. ځکه زه دخپل هیواد او خپلو ملي ژبو په اړه اندیښمن یم.))

خو د دیجیتل سرلوحه لیکونکی. ۲۸ کلن سیفی وویل. چې تر اوس هیچا ور څخه د خپلی هټی د لوحې بدلولو غوښتنه نه ده کړې.

دا لاروښانه نه ده، چې که څوك د حکومت له دې لارښوونې غاړه وغړوي. څه راز سزا به ورکول کیږي خو د افغان اعلاناتو. مشره زمانی هوډمنه ده. چې باید لوحې هرو مرو بدلون ومومي.

دموټر چلولو په اجازه لیك کې جعل کاري

ديوې لارې چلوونکی غلام حضرت په دې خبر نه دی چې دترافیکو ریاست دکابل ښار په کومې برخې کې پروت دی. سره له دې چې په دې وروستیو وختونو کې یې دچلولواجازه لیك ترلاسه کړی دی.

غلام حضرت وایي : ((یو ملګري مې یو چاته وروپېژندلم ما هغه ته خپله تذکره. عکس اوسل ډالره ورکړل په درېور ورځو کې یې راته لایسنس راوړ))

هغه وویل : داپه هیواد کې یوه عادې خبره ده او د رسمي لارې دیوکارله کولو څخه څو څو ځلې غوره ده.

که غلام حضرت دموټر دچلولو اجازه لیك په قانوني توګه ترلاسه کړی وای . نوباید څان یې له کاره ایستلی وای دموټر چلولو دړې اوونۍ جبري کورس یې لوستلی وای او بیا یې ازموینه ورکړې وای که په ازموینې کې پاتې راغلی وای . نوبیا به یې له سره داکورس لوستلو لکه دنورو خلکو په څېر داد هغه لپاره اسانه او ارزانه خبره وه . چې د بدوله لارې داکار وکړي.

دترافیکو دریاست له خوا دا دړې میاشتنی کورس ورېادی او دهرچاپه مخ پرانیستی دی . چې داتلس کلنۍ منګ ته رسېدلی او روغتیایي کتنې یې تر سره کړې وي په دې کورس کې دلارو(سړکونو) قواعد شامل دي. خوپه عملي توګه دموټر چلول په کې نه شته. خکه داسې انګېرل کیږي. چې دکورس برخوالو لاله پخوا دموټر چلول زده دي.

دکابل ټرافیکو رئیس. سمونوال اسدالله ټینګارکوي. چې په کار باندې داکست په میاشت کې دپیل راهیسې یې هغه چاته لایسنس نه دی ورکړی . چې موټر یې نه شو چلولای.

نوموړي وویل: ((زما له تاکنې راهیسې. چادبډویا کمیشنکار له لارې دموټر وچلولو اجازه لیك نه دی ترلاسه کړی. که پخوا چا دا کار کړی وي. نوزه ترې خبرنه یم)) هغه وویل. دیولایسنس بیه لس ډالره ده او یوازې له لیکلې ازموینې تېرولو او موټر چلونې وروسته ورکول کیږي.

نوموړي زیاته کړه : ((دازموینې دتېرولووخت په چلوونکې پورې اړه لري.))

اسدالله وویل: هره میاشت خلکوته دموټر چلولو د ۳۰۰ شاوخواکې اجازه لیکونه ورکول کیږي هغه وویل : داشمېره دپروسږ کال په پرتله له دې امله راتیته شوې ده. چې د دړې اوونیز کورس له پای ته رسېدو وروسته باید سړی موټر وچلولای شي.

،دکابل په سړ کونو باندې دورځنیو ترافیکي پیښو د رامنځته کېدوله امله سړی په دې سوچ کې لوېږي. چې زیات شمېر موټر چلوونکی له دې بهیر څان په څنګ کوي.

دترافیك دریاست دپیښو دپلټنو رئیس. فتح محمد وویل. دتېرو شپږ ومیاشتو په بهیر کې په کابل ښار کې ۴۷۲ ترافیکي پیښې رامنځته شوې دي. چې د ۱۰۶ پېښو له امله مړینه او د ۳۰۶ له امله یې ژوبله رامنځته شوې ده . هغه وویل . داشمېره د تیر کال په پرتله په سلو کې لس زیاتوالی ښیي.

فتح محمد ددې کار پړه په سړکونو باندې په زیات بېروبار اچوي هغه وویل: داسړکونه د ۵۰ زرو موټرو دځغلولو لپاره جوړ شوي وو او اوس په هغې باندې له ۳۰۰ زرو څخه زیات موټر چلول کیږي.

هغه دې حقیقت ته هم ګوته ونیوله . چې په کابل کې د زیاترو موټرونو شتیرنګونه ښي لاس ته دي. په داسې حال کې چې دموټر دچلولو لاس. ښی دی.

فتح محمد داخبره نه مني.

چې موټر چلوونکي دموټر دچلولو لپاره دبډو ورکولو له لارې اجازه لیك تر لاسه کوي او وېې ویل. جعلي اسنادونه په پاکستان کې جوړېږي.

هغه وویل: ((په پاکستان کې لایسنسونه په دومره څېر کتیا چاپېږي. چې یوازې زموږ یو شمېر ماهر ترافیك هغه پیژندلای شي. یو شمېر خلك له دې امله بندیان شوي دي او دوسیې یې څارنوالی ته استول شوي دي .))

داې ډبلیوپي ار لاس ته داسې کوم موټر چلوونکی رانغی. چې په پاکستان کې یې دلایسنس په ترلاسه کولو خوله خوځولې وي. خودلته دهغو خلکو شمېر زیات دی ، چې دخپلو سندونو دترلاسه کولو لپاره یې بډې ورکړې دي.

دیواته څوکې لرونکي تونس چلوونکي . حبیب الرحمن وویل: دړې میاشتې دمخه هغه ددریوکلونو لپاره یو لایسنس د ۱۵۰ ډالر په وړاندې کولو سره د ترافیکو له څانګې څخه ترلاسه کړی دی. له هغې وروسته څو څو ځلې دترافیکو له خواکتل شوی. خو هیچا هم څه نه دي ویلي.

هغه وویل: ((ترافیك ځاتنه پیسې اخلي او د کمېشنکار له لارې لایسنس اجرا کوي.))

دقانوني لایسنس له درلودلو پرته سزا نرمه ده او دخلکو مخه دومره نه نیسي. که چېرته دترافیکو کوم کارکوونکی دیولایسنس په اړه شك ولري. نوله چلوونکي څخه ازموینه اخلي . که چلوونکی په ازموینه کې پاتې راشي. نولایسنس ترې اخیستل کیږي او ۴۰۰ افغانۍ جریمه کیږي.

یوشمېر موټر چلوونکي دجاري بېروکراسۍ له امله دلایسنس له اخیستلو تیرېږي. اووه ویشت کلن اجمل په پای کې تېره میاشت خپل لایسنس ترلاسه کړ. سره له دې چې له څلورو کلونو راهیسې موټر چلوي.

نوموړی وایي. داجازه لیك دترلاسه کولو دبهیر دتېرولو لپاره یې دیرې منډې رامنډې ووهلې . هغه به تل له یوې څانګې ته بلې ته استول (شوټ) کېدو اوورته به یې څه. بله ورځ راشه او ان کله ناکله به ور څخه پیسې هم غوښتل کېدې.

هغه وویل: ((دموټر چلولو اجازه لیك یوازې لس ډالره بیه لري. خو که د(چایواوخوړې) د(بډو) پیسې ورسره یوځای کړې. نوبیه یې تر ۶۰ یا ۷۰ ډالرو پورې رسیږي.))

بیانات رمضان بشردوست درپرتو قانون جزاء

نویسنده غ.ف

چندی قبل رسانه های خبری افغانستان ، مطبوعات خبرهای به نشر رسانید که گویا محترم بشردوست درحقیقت اسنادی بدست آورده که وزارت احیاء وانکشاف دهات، خاصتاً وزیر آن محترم محمد اتمر درآن وزارت دارایی های عامه را حیف ومیل کرده وازآن سوء استفاده نموده است او محترم اتمر را بحیث وزیری قلمداد کرد که از پول دولت برای خود قصر ها آباد کرده وبه همین منوال رئیس دولت ودرمجموع اعضای کابینه محترم کرزی را به سوء استفاده ،تنبلی وعدم صلاحیت های قانونی سهیم ساخته بود.

این اتهام بشر دوست را من از دیدگاه قانون جزاء مورد مداقه و تحلیل قرار میدهم.

محترم بشردوست وقتی مدعی میشود که یک سازمان عامه وشخص وزیر آن سازمان دست به اختلاس زده ، پول عامه را خلاف قانون حیف ومیل کرده وباین وسیله این سازمان عامه ، ملت را فریب داده ویا میدهد این اظهارات او بلاخره باثر مراجعه وزارت احیاء وانکشاف دهات به مقامات عدلی کشور بالخصوص لوی څارنوالی امور وکارکرد آن وزارت رادر زیر زره بین قانونی قرار داد وبلاخره تثبیت شد که تمام اتهامات محترم بشردوست واقعیت عینی نداشت وهمه آن بی اساس وبی بنیاد ثابت شد .

بشردوست برعلاوه اینکه محمد حنیف اتمر وزیر احیاء وانکشاف دهات را متهم کرده بلکه شخص رئیس جمهور مملکت را نیز اهانت کرده است. همه میدانند که این اتهامات بشردوست ازنظرقانون جزای افغانستان چون به اثبات نرسید خود یک عمل جرمی شناخته میشود.

حال ببینیم دراین مورد قانون جزاء چه حکم میکند ومرتکب این اتهام دروغین را مستوجب چه نوع مجازات می شناسد .

ماده (۲۴۲) قانون جزاء مینگارد.

|شخصی که توسط یکی از وسایل علنی به رئیس جمهور اهانت نماید به حبس متوسط محکوم میگردد| محترم بشردوست در کنفرانس مطبوعاتی خویش رئیس جمهور افغانستان را اهانت نموده است.

چون مطابق مندرجات ماده فوق قانون جزاء رمضان بشردوست به رئیس جمهور اهانت نموده وظیفه مقامات عدلی یا څارنوالی این است تا این عالیقدر را که ازطریق بیانات عوام فریبانه خویش مردم مظلوم کابل را که ازخوش باوری کارگرفته وبا این نوع گفتار میان خالی وبی اساس خویش عامه مردم را فریب داده وخود را بحیث یک قهرمان دروغین وحامی وناجی شان وانمود ساخته بود. حال معلوم شد که چنین اتهامات او اذهان عامه را مغشوش وخدمتگاران وطن را توهین وتحقیر نموده وباید رسانه های خبری و مقامات عدلی این شخص را تعقیب وقانوناً مواخذه نمایند تا باشد بار دیگر موصوف از طریق فریب دادن مردم بیانات بی اساس وبی بنیادش ، بحیث نماینده مردم قد علم نکند.

بیائید به بینیم درمورد اتهامات به گفته نیویارک تایمز درمورد حنیف اتمر که یک جوان با احساس وخادم وطن است وعملکرد وفعالیت های وظیفوی او دروزارت احیاء وانکشاف دهات درهر گوشه وکنار افغانستان اظهر من الشمس میباشد، این شخص درمورد او چه نوع اتهامات وارد نموده است.

بشردوست برای ثبوت ادعای میان خالی خود چند استعلامی را برای خبرنگاران ومطبوعات کشور بحیث وسیله ثبوت ادعای میان خالی وبی بنیاد خویش مدعی شده که او اصل اسنادی را بدست آورده که بوسیله آن قادر است جرم !! محترم حنیف اتمر را به اثبات میرساند.

دیده میشود که درمورد حصول اوراق رسمی که جزء اسرار اداره بود وبغیر از اشخاص مسوول اداری هیچ شخص دیگری بدون حکم قانون اجازه ندارد آنرا بدست آورد، درمورد رمضان بشردوست که خود مدعی است اصل اوراق را بدست آورده است قانون چه حکم میکند.

ماده (۲۸۰) قانون جزاء بند (۲) مینگارد:

|سارق یا تلف کننده وپنهان کننده اشیای مندرج فقره فوق به حبس متوسط محکوم میگردد| چون استعلامیه هائیکه بشردوست به آن اسناد دارد، ازجمله اوراق سری وملکیت عامه است فرقی نمیکند بکدام شکل وطرزی موصوف استعلامیه ها را بدست آورده این عملش جرم بوده وقابل تعقیب عدلی میباشد.

دیده شود څارنوالی موظف دراین مورد بابشر دوست چه رویه کرده وچطور اورا درچنگ قانون میسپارد؟

بشردوست همچنان مدعی شده که محمد حنیف اتمر وزیر احیاء وانکشاف دهات ۲۷ قصر شخصی دارد.

این موضوع نیز بعد ازتحقیق وتدقیق مقام لوی څارنوالی ثابت شد که محمد حنیف اتمر در تمام جهان ازخود سرپناه شخصی ندارد.

تعمیراتی راکه رمضان بشردوست برآن انگشت گذاشته ملکیت عامه بوده وبرای نمایندگی های این وزارت درولایات کشور مطابق قانون بودجه ومقررات داخلی وخارجی کشور آنرا اعمار نموده است.

چون این ادعای موصوف نیز ازطرف څارنوالان مقام لوی څارنوالی دروغ وبی بنیاد ثابت شد ، دیده شود دراین مورد قانون جزاء چه حکم میکند:

ماده (۲۴۸) قانون جزاء مینگارد:

|شخصی که توسط یکی از وسایل علنی موظف خدمات عامه را به ارتباط اجرای وظیفه توهین نماید به حبس قصیریکه از سه ماه کمتر وازشش ماه بیشتر نباشد وجزای نقدی که از سه هزار افغانی کمتر و از شش هزار افغانی تجاوز نکند یا یکی از این دو جزاء محکوم میگردد، این ماده قانون صراحت کامل دارد. موصوف محترم حنیف اتمر را باین وسیله ذریعه رسانه های خبری ومطبوعات کشور توهین نموده است. یقین کامل دارم څارنوال مطابق احکام قانون جزاء وظیفه خود را درمورد تعقیب موصوف فراموش نکرده واقدامات جدی باید بعمل آورد.

بشردوست علاوه براتهامات فوق محمد حنیف اتمر را قذف گفته چون اتهامات وارده بشردوست برمحمد حنیف اتمر ازطرف څارنوالی بی اساس به اثبات رسیده حال می بینیم که دراین مورد نیز قانون جزاء چه حکم کرده است .

فقره (۱) ماده (۴۳۶) قانون جزاء مشعر است | قذف عبارت است ازنسبت دادن واقعه معینه بغیر توسط یکی از وسایل علنی به نحوی که اگر صدق میداشت شخص که تهمت به او نسبت داده شده به جزاء محکوم میگردید یا به نزد مردم تحقیر میشد.

فقره (۲) این ماده مشعر است در صورتیکه حد قذف ثابت نشود، قذف دهنده را محکوم به مجازات حبس الی دو سال ویا جریمه نقدی که از ده هزار افغانی کمتر نباشد می پندارد.

چون ادعاهای بشر دوست کاملاً بی بنیاد وبی اساس ازطرف څارنوال محقق تثبیت شده بناء باید څارنوال موظف نظر به درخواست شخص آقای محمد حنیف اتمر این اتهام دهنده قذف را مورد تعقیب عدلی قرار دهد.

طوریکه درمقدمه گفته شد بشردوست با استفاده از حسن نیت مردمان کابل که ازطر یق بیانات بی بنیادش وکیل ولسی جرگه انتخاب شده نباید څارنوال موظف چنان فکر کند که موصوف ازمصئونیت پارلمانی برخوردار است.

اول موصوف این اتهامات را زمانی وارد کرده که او از طرف مردم بحیث وکیل انتخاب نشده بود وثانیاً اگر به ماده (۱۰۲) قانون اساسی نظر اندازیم ، وکیل مردم وقتی مرتکب جرم میشود قانون این عمل اورا قابل تعقیب عدلی میشناسد ، این مصئونیت صرف در زمان ابراز نظر درداخل جلسه پارلمان مشروط براینکه کدام قانون را نه شکسته باشد، برای یکنفر وکیل پیش بینی کرده .

اگر تحلیل فوق را خلاصه کنیم ، میتوان گفت بشردوست قانون شکن بوده ، اتهامات خود را نه توانست به کرسی نشاند بناً څارنوال موظف باید این بازی گر با احساسات نیک مردم را تحت تعقیب قرار دهد مردم کابل وافغانستان را از شربیانات زهرآگین همچو اشخاص درامان سازد .

چون بشر دوست در مورد محمد حنیف اتمر کذباً اطلاع داده باید با موصوف طوریکه څارنوالان موظف تحقیق در روز مصاحبه مطبوعاتی شان اعلان کردند که ادعا واطلاع موصوف باثبات نرسید ، باید ماده ۳۷۷ قانون جزاء را بر وی تطبیق نمایند.

روسیه صادرات گاز به اوکراین را قطع کرد

بر اساس گزارشهای خبری از روسیه مقامات شرکت گاز پروم قطع گاز به اوکراین را شروع کرده اند.

همین گزارشها حاکیست که فشار در لوله های انتقال گاز به اوکراین کم شده است.

شرکت گازپروم روسیه پیشتر تهدید کرده بود که قطع صادرات گاز به اوکراین را صبح یکشنبه (اول جنوری ۲۰۰۶) عملی خواهد کرد.

مقامات این شرکت دلیل این اقدام را نپذیرفتن پیشنهاد مقامات شرکت از سوی اوکراین خوانده اند.

روسیه پیشنهاد داده بود که این کشور قیمت کنونی ۵۰ دالر برای هر هزار متر مکعب را تا ماه اپریل اعمال خواهد کرد اما پس از آن قیمت به ۲۳۰ دالر افزایش خواهد یافت.

آقای پوتین در سخنانی که از تلویزیون روسیه پخش شد، گفت: "من به دولت و گازپروم فرمان می دهم گاز در سه ماه نخست سال ۲۰۰۶ با شروط و نرخ ۲۰۰۵ به اوکراین انتقال یابد، به شرط این که شرکای اوکراینی پیش از پایان (شنبه ۳۱ دسامبر ۲۰۰۵) قراردادی برای پذیرش نرخ بازار در سه ماه دوم امضا کنند."

سخنگوی نخست وزیر اوکراین در پاسخ اعلام کرد که کیف مخالفتی با خرید گاز به نرخ بازار ندارد، ولی "درباره ارقام واقعی باید مذاکره کرد."

دامین گراماتیکاس، خبرنگار بی بی سی در مسکو می گوید که بسیاری از مردم اوکراین عقیده دارند اقدامات روسیه انگیزه سیاسی دارد و با هدف ایجاد بحران طراحی شده است.

آنها معتقدند آقای پوتین می خواهد اوکراین را بخاطر انقلاب نارنجی و خرکت بسوی اتحادیه اروپا و ناتو، بجای نزدیکی بیشتر با روسیه، مجازات کند.

مشکل اروپا

بخش زیادی از نفت اروپا را روسیه از طریق خاک اوکراین تامین می کند ولی مسکو تاکید کرده است که "برنامه ای مفصل" برای تامین نیازهای انرژی کشورهای اروپا دارد و قطع گاز به اوکراین تاثیری بر اروپا ندارد.

با این حال اتحادیه اروپا از کارشناسان صنعت گاز خواسته است در چهارم جنوری در بروکسل تشکیل جلسه دهند تا پاسخ مناسبی بیابند.

اوکراین در حال حاضر گاز ارزان از روسیه می گیرد و در عوض می گذارد خط لوله های ترانزیت روسیه از خاکش بگذرد.

افراد مسلح دو عسکر پاکستانی را کشتند

پولیس پاکستان میگوید افراد مسلح ناشناس دو عسکر شبه نظامی را در ولایت خشونت زده جنوب غربی بلوچستان بقتل رسانیده اند.

یک نطاق قوای شبه نظامی سرحدی به خبر نگاران گفت: افراد مسلح در شهر خوزدار واقع در تقریباً ۲۵۰ کیلومتری جنوب کویته بروز جمعه بر عساکر گلوله باری کردند.

نطاق گفت حمله کنندگان بعد از گلوله باری توسط موترسایکل فرار کردند.

آژانس خبرگزاری فرانسه گزارش میدهد که یک سخنگوی ملیشیای ملیت پرست بلوچ ادعای مسؤلیت کرده است.

افراد قبایلی بلوچ یک جنگ خفیف را علیه حکومت مرکزی براه انداخته اند. آنها خواستار سهم بیشتری از عواید منابع طبیعی منطقه شان، مشاغل بیشتر در پروژه های دولتی و حقوق سیاسی میباشند.

نامه وارده

به اداره محترم اخبار اراده!

امیدوارم یک مطلب را که حداقل ۲۵ هزار نفر درآن منطقه مسکن گزین هستند بدست نشر بسپارید.

این منطقه امیر نشین شاه شهید نام دارد . که درآن جا معاونین رئیس جمهور، وزراء، قوماندانان برجسته جهاد مسلمانان زنده گی نمیکنند. به همین منظور توجه مقامات عالیرتبه درآنجا نیست.

آقای آمر حوزه جنوب غرب چند بار وعده برق را برای مردم شهر کابل دادند ولی آقای مذکور بدون اینکه توجه به همه نقاط شهر کابل نمایند، غلط کردند آنها فکر کردند که شهرکابل یعنی وزیراکبرخان، مکروریان ، خیرخانه ودشت برچی است مگر وزیر محترم از ترس اینکه محترم را از چوکی وزارت اخراج نکند فراموش کردند که چهلستون، شهر کهنه، شاه شهید، قلعچه، رحمن مینه ، سید نور محمد شاه مینه، قلعه زمان خان ، ده خدیداد نیز جز شهر کابل هستند نه وزیر اکبرخان ، نه دشت برچی نه خیرخانه ، جناب محترم یکبار به نقشه سابقه کابل توجه نمایند مناطق ذکر شده جز ماستر پلان وجز شهرکابل میباشد.

یک فرق دارد که درین مناطق نه کدام وزیر است نه کدام قوماندان برجسته جهادی، بخصوص شاه شهید یعنی منطقه جشن شما که همه وهمه مراسم شما قوماندانان درین منطقه اجراء میشود واز مدت یکسال بدینسو بعضی قسمت های آن لین دوانی شده ولی مردم آنها فاقد برق میباشد.

از طرف اهالی شاه شهید

جنرال بابر: ما سره...

داکتر رهین د یورسمي‌لیک په استولو سره له جنرال بابر څخه غوښتنه کړې وه چې د افغانستان هغه تاریخي اثار چې دی یې په واک لری دافغانستان ملی موزیم ته بیرته ستانه کړي. په دریو لسیزو کې د هیواد فرهنګی شتمنیو او تاریخی او لرغونو اثارو ته ډیر زیان رسیدلی او ډیر شمیر یې بهر ته قاچاق او لیږدول شوی دی. په تیرو کلونو کې څو ځلې د هیواد د ننه او بهر په ځینو کړیو کې څرګنده شوې وه چې جنرال بابر د هیواد یو شمیر تاریخی اثار په خپل شخصی موزیم کې چې دی ور سره ډیره مینه لری، له ځان سره لری. جنرال بابرچې د طالبانو نږدې دوست پاتې شوی و. دانه منې چې طالبانو ده ته د افغانستان یو شمیر تاریخی اثار د سوغات په ډول ورکړی دی.

د کوکنارو د مخنیوي...

چې د مانوګي ولسوالی. محمد الرحمن د غونډي ګډون کوونکو ته ویلي دي چې دولت او نړیواله ټولنه په بشپړه توګه د مخدرو توکیو د کرکیلی له مینځه وړل غواړي دغه راز ده څرګنده کړی تر څو چې د مخدره توکیو کرکیلی په بشپړه توګه له مینځه ولاړه نشي نو د بیا رغاونی بهیر به پخ وي مانوګی د کنړ یو له هغو ولسوالیو څخه دی چې په تیرو کلونو کې په کې مخدره توکي ډیر کرل کیدل.-

ازادی راډیو

د چارتراشو د قاچاق...

په داسې حال کې چې څه موده وړاندې د کنړ والی اسد الله وفا د ولسوالانو او امنیه قوماندانانو څخه په ټینګه د لرګیو د قاچاق د مخنیوي غوښتنه کړی وه او غوښتنه یې کړی که د هر چا په سیمه کې چارتراش قاچاق او کوکنار وکرل شي له دندی به لري شي.

ایجاد فابریکه تولید...

ظرف دوسال گذشته چندین فابریکه تولید ادویه درکابل تأسیس وبه فعالیت آغاز کرده است این درحالیست که بیشتر ادویه ازکشورهای پاکستان، ایران ، هندوچین وارد کشور میشود اما اکثرادویهء وارداتی از کیفیت لازم برخوردار نیست وزارت صحت عامه میگوید که سرمایه گذاران داخلی وخارجی را تشویق کرده تا درزمینه تولید ادویه فابریکه های را درداخل کشور ایجاد نمایند درهمین حال قرار است بروز سه شنبه فابریکه دواسازی غوښت بعد ازسالها وقفه فعالیتش را درکابل ازسرگیرد. رادیوآزادی

مهاجرین خواهان مهلت...

اما این مهاجرین خواهان مهلت بیشتر بوده ومیگویند منتظررهایی شش نفر ازمهاجر میباشند که سه شنبه گذشته توسط پولیس توقیف گردیده اند که دراین باره آمر حوزه سوم چنین گفت فرمان حکم رئیس صاحب محترم دولت جمهوری اسلامی افغانستان هم موجود است درین ارتباط . اما مجبور به این شدیم بخاطر اینکه زیر سوال قوماندانی محترم امنیه کابل هم قرارنگرفته باشیم که همین یک تعداد اشخاص از اینها را رسماً جلب ومستقیماً به اداره محترم قوماندانی امنیه کابل روان بکنیم تا معلوم گردد روی کدام دلیل آنها محل را ترک نمی نمایند، درحالیکه وزارت عودت مهاجرین جای هم برایشان مشخص ساخته است.

بازداشت...

رئیس پولیس بین المللی افزود با سیستم جدید که درمیدان هوائی کابل ودیگر ولایات کشور نصب میگردد تلاش خواهد شد تا جلو قاچاق مواد مخدر گرفته شود . تاجائیکه ما معلومات داریم ۱۳ نفر به اتهام قاچاق مواد مخدر دستگیر گردیده اند، وهمه ۱۳ تن افغانهای میباشند که همه مشغول قاچاق مواد مخدر بودند وآنها دارای ارتباطات قوی درداخل کشور ودرهندوستان بودند وهمه دستگیر گردیدند پولیس هندوستان بالای آنها کارمینماید وتحقیقات جریان دارد.

اراده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : سهراب دیدار
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
موبایل : ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمد جمیل "امیری" و سبحان الله "داودزی"
چاپ:مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor:Suhrab Didar (Mobil phone :070222726)
eradadaily@hotmail.com
Engineerjamil_amiry@yahoo.com